**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې .
کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل شمېره: ۹**

**نېټه: ۱۴۴۴/۱/۲۷ هـ ق**

---

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

و بعد: د سترې محکمې محترمې عالي شورا د سترې محکمې محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ، د عالي شورا محترمو غړو، د مرکزي دیوانونو محترمو رئیسانو، د سترې محکمې د مرکزي قضایي ریاستونو محترمو رئیسانو په ګډون، په ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټه، چې له ۱۴۰۱/۵/۱۲ هـ ش سره برابره ده، جلسه دایره کړه او د ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق د (۳ مې) ګڼې تصویب په ترڅ کې یې د ځینو موضوعاتو په تړاو فیصله وکړه چې د اسلامي امارت له محترم عالي مقام سره شریک کړل شي. په همدې اساس، د یادې جلسې موضوعات د اسلامي امارت له محترم مقام سره شریک کړل شول چې دویمه موضوع یې داسې وه:

((په ځینو قضیو کې مدعي علیه د خپلې دعوې د حل او فصل په موخه محکمې ته نه حاضرېږي او نه هم خپل وکیل ټاکي، متواري وي او مسخر وکیل ته اړتیا وي.

او ځینې وختونه په هیواد کې دننه یا له هیواد څخه بهر د حضور په درلودلو سره متمرد وي، په دې صورت کې دې په جبري ډول حاضر کړل شي یا محکمه دې د هغه له خوا مسخر وکیل وټاکي؟))

د افغانستان اسلامي امارت عالي محترم مقام د دویمې فیصلې په تړاو دا ډول لارښوونه وکړه: ((د هغه مدعي علیه لپاره دې چې په هیواد کې دننه وي، مسخر وکیل و نه ټاکل شي. محکمه دې د هرې ممکنه لارې څخه په ګټه اخیستنې سره هڅه وکړي . هغه مدعي علیه چې په هیواد کې دننه وي احضار کړي.

او هغه کسان چې له هیواده بهر دي، په دې صورت کې محکمې دې د محکمو د عالي ادارې د ۱۴۳۹/۹/۲۳ هـ ق نېټې د (۸۲ج۲۵) ګڼه لیک، چې د ځمکې د بندېدو په هکله دی، او د ۱۴۴۲/۱/۱۰ هـ ق نېټې د (۵۵ج۵) ګڼه لیک، چې د مسخر وکیل د ټاکل په هکله دی، له مخې اجراأت وکړي او همدارنګه د مجلة الاحکام د (۱۸۳۴مې) مادې مطابق دې عمل وشي.))

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکي ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.onlineته لاړ شئ .

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت :**دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې .
کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي .مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي

بناءً د پورتني مجلس د دویمې موضوع په تړاو د افغانستان اسلامي امارت د عالي محترم مقام فیصله د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محاکمو محترمو ریاستونو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې ترسره شي.

**په درناوي**

(لاسلیک)

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO)په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO)پروژې لپاره ژباړل شوی دی .د ARLO
په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.onlineته لاړ شئ .